مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۳/۲۰

نوروز و نوی کال مو مبارک شه!

نوروز ته سرود

له بامي بلخه راپاڅه ، دنوروز دسهارباده
پسرلی د عشق راخور کړه له زاړه امالبلاده
د هېلمند مسته څپه شه په لرغوني سیستان واوړه
د کابل ارغوان ښکل کړه ، د باګرام هواکړه ښاده

پر سرلوړي هري واوړه ، چې ګذر په اصفهان کړې
بخارا ته وړمه یوسه ،چې پرواز په بدخشان کړې
دسوما په باده مسته ! د (سدې) د جشن یاده
له بامي بلخه راپاڅه ، د نوروز د سهار باده

له (ګنجه) تر اباسینه ، له ګنګا تر سمرقنده
له قونیې تر فرامروده ، له لاهوره ترخجنده
دزلمو دي اتڼونه ، د ښایسته پېغلو نڅا ده
له بامي بلخه راپاڅه ، د نوروز د سهار باده

نوی کال دی ، نوی ژوند دی، د اقبال ستوری بلند دی
د داني نوی پیوند دی ، د دهقان خاطر خرسند دی
ترپښو لاندې سبزه ده ، پاس د عشق نوي هوا ده
له بامي بلخه راپاڅه ، د نوروز د سهار باده

.
سمنک دې شنه قدم ته ، هفتمېوه د سپرلي دم ته
قزاقي سمند دې زین کړه ، راشه بیا قرغزي چم ته
چې بیا یو کړو سره زړونه ، لویه سوله کړه بنیاده
له بامي بلخه راپاڅه دنوروز دسهار باده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ